# بسم الله الرحمن الرحيم

# لړلیک

سریزه ........................................................................................................... 1
لرلید (Vision)................................................................................................. 2
رسالت (Mission) ............................................................................................. 2
مؤخې (Objectives) ........................................................................................ 3
ارزښتونه(values) ........................................................................................ 3
د پوهنځی په سطحه د (SWOT) تحلیل او تجزیه ........................................................ 3
I. د قوت ټکي (Strength) ................................................................................ 3
II. د ضعف ټکي (Weakness) ........................................................................... 4
III. فرصتونه (Opportunity) ............................................................................. 4
IV. ننګونې (Threats) ....................................................................................... 4
د کرنې پوهنځی ستراتیژیک موقعیت ........................................................................ 6
د کرني پوهنځی ستراتیژیکې موخې.............................................................................. 6
I. ښه حکومتولي ............................................................................................... 6
a.رهبری پروګرام ................................................................................................ 7
b.مالی او علمی استقلالیت........................................................................................ 7
c.د فساد په وړاندی مبارزه ........................................................................................ 7
d.نظارت او ارزونه .................................................................................................. 7
e.تفاهم لیکونه ........................................................................................................ 8
f. جندر ................................................................................................................. 8
II. اکاډمیک پروګرام ............................................................................................ 8
a. د علمي څېړنې، نوښت او انتقادي تفکر عامېدنه.......................................................... 9
b. تضمین کیفیت او اعتبار لوړونه ............................................................................. 9
c. الکترونیکي زده کړې (Electronic Learning)........................................................ 10
d. ظرفیت لوړونه ................................................................................................. 10

e. د ځانګو ایجاد ........ 12
III. خدمات ........ 12
IV. لوړو زده کړو ته لاس رسی ........ 13
V. زیربنا او تجهیزات ........ 14
a. لابراتوارونه ........ 14
b. ځېړنيز فارم جوړول ........ 14
c. مجهزه کتابخانه او کمپیوټر لب ........ 14
VI. په چاپېريال باندې د کرنې پوهنځي اغېزې ........ 15
د کرنې پوهنځی ستراتيژيو ټاکل ........ 15
I. د زیر بنا برخه ........ 15
II. مالي او اداري برخه ........ 15
III. لوړو زده کړو ته لاس رسی ........ 15
IV. ښه حکومتولي ........ 16
V. علمي او تحقیقي برخه ........ 16
VI. د بشري سرچینو پراختیا ........ 16
د کرنې پوهنځي زیربنایي اړتیاوې ........ 16
د کرنې پوهنځی تشکیلاتي پراختیایې جدول ........ 18
عملیاتي پلان ........ 19
ضمایم ........ 22
لمړی پوښتنپاڼه: د داخلي وضعیت تجزیه او تحلیل ........ 22
دوهمه پوښتنپاڼه: د خارجي وضعیت تجزیه او تحلیل ........ 23

## سريزه

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسي د کرنې پوهنځی په ۱۳۹۳ ه ش کال کې چې د ۲۰۱۴ میلادی کال سره سمون خوري  د یادې مؤسسې د تأسیس سره سم د دوو څانګو ( هارتیکلچر او اګرانومي ) په چوکاټ کې په لمړي ځل د دريو تنو استادانو په درلودلو سره په فعالیت پیل وکړ.

د کرنې پوهنځی ټول تشکیل (۱۴) کسانو ته رسیږي چې له دې جملې (۱۲) تنه کادري غړي دي( د جزئیاتو لپاره ۱ شمیره جدول ته مراجعه کولای شی) او د پاتې (۲) تنو څخه یو یې د پوهنځی تدریسي عمومي مدیر او بل یې د دیپارټمنتونو اجر ایه مدیر دی . په یاده پوهنځی کې د رسمي استادانو ترڅنګ (۵) تنه قراردای استادان هم په تدریس بوخت دي. اوسمهال ددې پوهنځي په پورته ذکر شویو (۲) څانګو کې (۶۰۱) تنه محصلین په زده کړو بوخت دي. او په ۱۴۰۰ کال کې به تقریباً (۲۴۰) تنه نور محصلین هم نوي سمستر ته جذب شي. پدې سره به د ټولو محصلینو شمېر تقریباً (۸۴۱) تنو ته ورسیږي( د جزئیاتو لپاره ۲ شمیره جدول ته مراجعه کولای شی). دې پوهنځي د تېر شپږ کلن بهیر په دوران کې له دوو څانګو څخه (۱۴۷) تنه محصلین د ټولنې د خدمت په موخه فارغ کړي دي.

د کرنې پوهنځي د کیفیت د ښه والي لپاره تازه متې رانغښتې دي. یادې پوهنځي په خپل اداري چوکاټ کې پنځه داسې کمېټې جوړې کړي دي چې د پوهنځي د کیفیت لوړاوي لپاره په دوامداره توګه کارونه سرته رسوي، چې عبارت دي له: ۱- د کیفیت لوړاوي فرعي کمېټه، ۲- د ستراتیژیک پلان کمېټه، ۳- نصاب او څېړنې کمېټه، ۴- الکترونیکي زده کړو کمېټه او ۵- د نظم او دیسپلین کمېټه. دا کمېټې خپل کارونه په خپل وخت ترسره کوي چې ښه بېلګه یې د ستراتیژیک پلان جوړېدنه ده چې د اړوندې کمېټې له لوري جوړ شوی دی.


**1 شمیره جدول:** د کرنې پوهنځی د استادانو احصائیه

| پوهنځی | علمي رتبه | | | | | | | علمي درجه | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پوهیالی | نامزد پوهنیار | پوهنیار | پوهنمل | پوهندوی | پوهنوال | پوهاند | لیسانس | ماستر | دوکتور |
| زراعت | ۱ | ۵ | ٦ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ | ۵ | |
| | | | | | | | | د تحصلي دورې په جریان کې | | |
| | | | | | | | | | ٦ | ۲ |
| مجموعه | | | | | | | | ۱۲ | | |

**2 شمیره جدول:** د کرنې پوهنځی د ۱۳۹۹ کال د خزاني سمستر د برحاله محصلینو احصائیه

| شمیره | پوهنځی | څانګه | لمړی ټولګی | | | دوهم ټولګی | | | دریم ټولګی | | | څلورم ټولګی | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه | ذکور | اناث | مجموعه |
| ۱ | زراعت | هارتیکلچر | ۱۱۵ | ۰ | ۱۱۵ | ۹۸ | ۰ | ۹۸ | ۴۱ | ۰ | ۴۱ | ۴۴ | ۰ | ۴۴ | ۳۱۸ | ۰ | ۳۱۸ |
| ۲ | | اګرانومي | ۱۰۸ | ۰ | ۱۰۸ | ۸۵ | ۰ | ۸۵ | ۴۷ | ۰ | ۴۷ | ۴۳ | ۰ | ۴۳ | ۲۸۳ | ۰ | ۲۸۳ |
| مجموعه | | ۲ | ۲۲۳ | ۰ | ۲۲۳ | ۱۸۳ | ۰ | ۱۸۳ | ۱۰۸ | | ۱۰۸ | ۸۷ | ۰ | ۸۷ | ۶۰۱ | ۰ | ۶۰۱ |

**1 شمیره دیاګرام:** د کرنې پوهنځی تشکیلاتي چارت




## لرلید (Vision)

د کرنې پوهنځی په علمي ډګر کې د هیواد په کچه د کرنې د یوې غښتلي اکاډمیکې اداري د رامنځته کولو هڅه کوي، ترڅو د کرنې په برخه کې د هیواد د پرمختګ، هوساینې او ښې راتلونکې لپاره بااستعداده، مسلکي او په ملي روحیه سمبال کادرونه وروزي.

## رسالت (Mission)

د کرنې پوهنځی د مسلکي، اخلاقي او اکاډمیکو معیارونو په رڼا کې د استادانو، محصلینو او کارمندانو لپاره د علمي پوهې د لاسته راوړلو، شریکولو او د عملي چارو لپاره زمینه برابروي.

د کرنې پوهنځي لرلید او رسالت ،د پوهنځي د علمي شورا په (۲۱/۱۱/۱۳۹۹ ) نېټه غونډه کې تائید شوي دي. له هغه وروسته ددې پوهنځي لرلید او رسالت د (۵۲/۱۵) (۲۷/۱۱/۱۳۹۹) ګڼه او نېټې په اساس د وردګ د لوړو زده کړو موسسې رهبري شورا ته د منظوري لپاره لېږل شوي دي. یاد لرلید او رسالت لازمو تغیراتو په راوړلو سره د رایو په یووالي سره د وردګ د لوړو زده کړو موسسې په رهبري شورا کې د (۶/۱۲/۱۳۹۹) نیټه

غونډه کې تائید او وردگ د لوړو زده کړو مؤسسې د رهبري شورا د  (۲۸۱/۱۴۲) (۶/۱۲/۱۳۹۹)گڼه لیک په واسطه رالیږل شوي دي.

## مؤخې (Objectives)

- د عصري او معیاري میتودونو په وسیله د تدریس چاري پر مخ وړل
- د عصری کرنې د انکشاف، د نباتاتو د تکثیر او اصلاح، د نباتی امراضو او آفاتو په مقابل کې مبارزه، د خاوري ساتنه او اصلاح، د اوبو تنظیم او مدیریت، د حیوانی او نباتی محصولاتو اصلاح او مدیریت برخو کې د علمې او مسلکې کادرونو روزل
- د استادانو او محصلینو پواسطه د څانگو اړوند علمي څیړنو سرته رسول
- د کرنې او مالداري سکتور اړوند علمې تألیفاتو ، ترجمعو، عملې سمینارونو، ورکشاپونو او اړوند مسلکې فعالیتونو سرته رسول

## ارزښتونه(values)

- اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمنتیا.
- باکیفیته لوړې زده کړې.
- جواب گویې صداقت او متقابل احترام.
- مسلکي کیدنه، سالمه اداره او اغیزمنتوب.
- هڅه، خلاقیت او ابتکار.

## د پوهنځی په سطحه د (SWOT) تحلیل او تجزیه

د کرنې پوهنځی د ستراتیژیک پلان جوړونې لپاره د توظیف شوي کاري گروپ د یو لړ مطالعاتو او بحثونو په پایله کې هغه موارد لیست او تحلیل کړل چې د یادې پوهنځی په کړنو اغیز درلودلی شي:

### I. د قوت ټکي (Strength)

1. د مسلکي او نسبتاً مجربو استادانو شتون.
2. د سالم مدیریت شتون.
3. شپږ کلنه کاري تجربه.
4. د قوانینو او مقرراتو لپاره د مناسبې زمینې موجودیت.
5. د کیفیت لوړاوي د پروسې موجودیت.
6. د پوهنځي د کمی وضعیت په پرتله د کیفیت ښه والی.
7. د ټولنیز مسؤلیت احساس.
8. د علمي کادرونو د ظرفیت لوړوالی ته ژمنتیا.
9. په تدریسي او اداري کړنو کی شفافیت.
10. په دوامداره توگه د استادانو مدیرانو او محصلانو څارنه.

11. په پوهنځی کې د نويو ځانګو د ایجاد په برخه کې د توجه شتون
12. د پوهنځی د راتلونکو زيربنايي تاسیساتو لپاره د کافي ځمکې موجوديت.

## II. د ضعف ټکي (Weakness)

1. په پوهنځی کې د ځانګو کمبود.
2. د کرنې پوهنځی لپاره د تحقيقاتي فارم، لابراتوارونو او اړوند زېربنايي تاسيساتو نشتون.
3. د ښځينه محصلينو د جذب لپاره د امکاناتو نشتون.
4. د علمي څېړنو او علمي تأليفاتو لپاره د مناسبو منابعو نه درلودل.
5. د پوهنځي په سطحه د کتابتون، انټرنيټ او الکترونيکي امکاناتو کمبود.
6. په ټولګيو کې د درسي اسانتياوو (څوکی، پروجيکتور او...) کمښت.
7. د اداري کارکونکو او د قراردادي استادانو لپاره نامناسبه حق الزحمه.
8. د تدريس د کيفيت د ارزونې او اصلاح لپاره د اسانتياوو کمښت.
9. په تدريسي برخه کې د محصلينو لپاره د فيډبک په موخه د عملي برخې کمزورتيا.
10. د علمي سفرونو نه شتون.
11. د استادانو د تدريسي مکلفيت او علمي کړنو د اندازه کولو لپاره د میکانيزم نه تطبيق.
12. د عايداتي منابعو نه شتون.

## III. فرصتونه (Opportunity)

1. د پوهنځي په زيربنايي او اعتبار ورکونې په برخه کې د پوهنتون او لوړو زده کړو محترم وزارت ملاتړ.
2. د پوهنځي سره د اړونده شرکاوو همکاري.
3. په کرنيزو سکتورونو کې د فارغ شويو محصلينو جذب.
4. له پوهنځي سره د سيمې د ځوانانو د لېوالتيا زياتوالی.
5. د پوهنځي سره د مرستې په برخه کې د نږدې پوهنتونونو د علمي کادرونو ليوالتيا.
6. د دوامن امنيت شتون.
7. په ټولنه کې ښه نوم، اعتبار او د خلکو دلچسپي درلودل.
8. ليسانس کچې ته د کرنيزو انستيتيوتونو څخه د فارغ شويو محصلينو ليوالتيا.

## IV. ننګونې (Threats)

1. د کانکور له لارې د بااستعداده محصلينو نه معرفي کيدل.
2. په اداري او مالي برخو کې د خپلواکۍ نشتوالی.
3. د کانکور له لارې دپوهنځي تر ظرفيت لوړشمېر محصلانو معرفي کېدنه.
4. د علمي کادرونو په جذب کې د ماستری/ دوکتورا په کچه د علمي کادرونو کمښت.
5. د زده کړو لپاره د مناسب مطالعاتي چاپيريال نه شتون.
6. د کادري او اداري پرسونل شغلي صلاحيت ته کمه پاملرنه.
7. د استادانو په استخدام کې د ذيصلاح مسئولينو کمه پاملرنه.

د پورته ذکر شويو قوت ټکو او فرصتونو څخه په ګټه اخيستلو سره هڅه کيږي چې ضعفونه رفع او تهديدونه له منځه یوړل شي، چې په لاندې جدول کې په کوته شوي دي.

| داخلي خارجي عوامل (IEF) | قوتونه (S) | ضعفونه (T) |
|---|---|---|
| فرصتونه (O) | **(SO) تهاجمي حالت**<br>د $S_1$ په واسطه د $O_4$ او $O_7$ او $O_8$ لاس ته راوړل<br>د $S_2$ او $S_{10}$ په واسطه د $O_1$ او $O_2$ لاس ته راوړل.<br>د $S_4$ په واسطه د $O_1$ او $O_8$ لاس ته راوړل.<br>د $S_5$ او $S_{10}$ په واسطه د $O_1$، $O_2$ او $O_7$ لاس ته راوړل.<br>د $S_6$ او $S_8$ په واسطه د $O_3$، $O_4$ او $O_7$ لاس ته راوړل.<br>د $S_{12}$ په واسطه د $O_3$ او $O_4$ او $O_8$ لاس ته راوړل. | **(WO) محافظه کارانه حالت**<br>د $O_1$ په واسطه د $W_1$، $W_2$، $W_3$، $W_5$، او $W_6$ لاس ته راوړل .<br>د $O_2$ په واسطه د $W_1$ لاس ته راوړل.<br>د $O_6$ په واسطه د $W_3$ لاس ته راوړل.<br>د $O_7$ او $O_8$ په واسطه د $W_3$ لاس ته راوړل. |
| تهدیدونه (T) | **(ST) رقابتي حالت**<br>د $S_2$، $S_5$ او $S_{12}$ په واسطه د $T_1$ او $T_2$ رفع کول.<br>د $S_2$ او $S_4$ په واسطه د $T_2$ رفع کول.<br>د $S_2$، $S_5$ او $S_{12}$ په واسطه د $T_1$ رفع کول.<br>د $S_{13}$ په واسطه د $T_5$ رفع کول.<br>د $S_5$، $S_9$ او $S_{12}$ په واسطه د $T_7$ رفع کول. | **(WT) تدافعي حالت**<br>د $W_{12}$ ساتل د $T_1$ او $T_2$ له تهدیدونو څخه د مخنیوی په خاطر.<br>د $W_5$ او $W_6$ ساتل د $T_1$ او $T_3$ له تهدیدونو څخه د مخنیوی په خاطر.<br>د $W_2$ ساتل د $T_3$ له تهدید څخه د مخنیوی په خاطر. |


**پوښتنپاڼه:** د داخلي او خارجي وضعیت اړوند د معلوماتو د راټولولو په موخه له پورته ذکر شویو عواملو څخه یاد کاري ټیم لخوا پوښتنپاڼې د داخلي وضعیت د تحلیل لپاره 24 واحده لرونکې پوښتنپاڼه او د خارجي وضعیت د تحلیل لپاره 15 واحده لرونکې پوښتنپاڼه چې هره یوه یې د 5 کالمونو درلودونکې دي، طرحه او ترتیب کړل شوې؛ چې لمړی کالم د واحد شمیرې ته، دوهم کالم د پوښتنپاڼې واحدونه، دریم کالم ضریب( چې د ټولو ضریبونو مجموعه له 100 زیاته نه شي)، څلورم کالم رتبې (4-3 یا هم 2-1)، او پنځم کالم نمرې ته ځانګړی شوی دی( 1 شمیره ضمیمه).

پورته ذکر شوې پوښتنپاڼې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځی په داخل کې( د کرنې پوهنځی ستراتیژیک پلان جوړونې غړو، د څانګو آمرینو، استادانو او مدیرانو ته)، او له موسسې څخه د باندې( د پوهنځی مخکنیو رئیسانو، په خارج کې د کرنې پوهنځی د ماسټرۍ په زده کړو بوختو استادانو او نورو خبره کسانو ته) توزیع او له ډکولو وروسته راټولې کړی شوې دي.

په دغه سروې کې 13 کسانو برخه اخيستې چې ټول يې تحصيل يافته او د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې او سيمې اړوند د پوهې خاوندان دي.

### د کرني پوهنځی ستراتيژيک موقعيت

د داخلي او خارجي وضعيت اړوند کومې پوښتنپاڼې چې د خبره کسانو له لوري ډکې شوې د يادو پوښتنپاڼو پر مټ د امتيازاتو د محاسبې په وسيله د کرني پوهنځی موقعيت ټاکل شوی او په لاندې ډیاګرام کې ښودل کيږي.




## د کرني پوهنځی ستراتيژيکې موخې

د لوړو زده کړو وزارت د ملي ستراتيژيک پلان اولويتونه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د اولويتونو پربنسټ تعين شوي دي، چې د ياد وزارت اړوند ټول پوهنتونونه او تحصيلي مؤسسې هم په ورته توګه خپل ستراتيژيک پلانونه جوړوي. دا اولويتونه په لاندې توګه دي

### I. ښه حکومتولي

د کرنې پوهنځی د اداری جوړښت په رآس کی د کرنې پوهنځی رئیس، دوه ځانکو آمرین او ددی تر څنګ تدريسی او اجرايه مدیریتونه شتون لری.

سربیره یاده پوهنځی ٦ بیلابیلی کمیتی (تضمین کیفیت، ستراتیژیک پلان، د نصاب او څیړنی کمیته، بریښنایی زده کړو ، نظم او دسیپلین او آزموینی) کمیتی چی هره یوه یی ځانګړی کاری لایحی لری رامنځته کړی تر څو وکولای شی ټول علمی او اداری پروګرامونه په ښه توګه پر مخ یوسی.

a. رهبری پروګرام

د کرنی پوهنځی رهبری ( رئیس او د څانګو آمرین ) هڅه کوی تر څو د استادانو، اداری کارمندانو او محصلینو د ظرفیت لوړولو په برخه کی لاندی پروګرامونه په نظر کی لری

- د اداری مدیریت اړوند د روزنیزو پروګرامونو برابرول
- د علمی برخی د کیفیت لوړولو لپاره لازم پلانونه جوړول
- د علمی او اداری برخو د ښه تنظیم په موخه نظارت او ارزیابی تر سره کول

b. مالی او علمی استقلالیت

د کرنی پوهنځی د لوړو زده کړو د وزارت د علمی او اداری استقلالیت ، مقرری پر بنسټ د خپل مالی او علمی استقلالیت تر لاسه کولو لپاره په لاندی فعالیتونو برخه کی هڅه کوی

- د انفرادی او ګروپی څیړنو تر سره کول
- د لابراتوارونو او څیړنیز فارم جوړول
- د لنډ مهاله او اوږد مهاله مسلکی او غیر مسلکی روزنیز پروګرامونو برابرول
- د مرستو د جلت په موخه د پروپوزلونو تهیه کول
- د زده کړو د نویو او تخنیکی میتودونو څخه ګټه اخیستل
- بریښنایی زده کړو ته وده ورکول
- د کرنی پوهنځی لپاره د کتابتون ایجادول

c. د فساد په وړاندی مبارزه

لکه څرنګه چی فساد غیر قانونی او د اسلامی دین خلاف کړنی ګڼل کیږی نو په همدی اساس فساد د علمی او اداری انکشاف او پرمختګ تر ټولو اساسی خنډ ګڼل کیږی نود کرنی پوهنځی رهبری په خپل ټول توان هڅه کوی تر څو د یادی شومی پدیدی څخه د ژغورنی په موخه لاندی کړنی تر سره کړی

- د علمی او اداری برخو اړوند د ټولو مقرراتو ، لوایحو، او قوانینو څخه د ښه تطبیق په منظور څارنه کول
- د فساد اړوند رامنځته کیدونکو هغو موادو په اړه چی په قوانینو کی ورته وضاحت نه وی ورکړل شوی د حل په موخه د ځانګړو کمیتو ګمارل او له منځه وړل

d. نظارت او ارزونه

دا چی نظارت او ارزونه د مدیریت اساسی اصل ګڼل کیږی نو په همدی مورد کرنی پوهنځی رهبری د چارو د ښه تنظیم په موخه لاندی کړنی تر سره کوی

- د ټولو اړوندو قوانینو، مقررو او تصامیمو د پوره تطبیق په منظور څارنه تر سره کوی
- د کومی خلا د رامنځته کیدو په وخت ځانګړی تصمیم نیول
- د ارزونی او نظارت راپور او فید بک ورکولو اصل رایجول

e. تفاهم لیکونه

کرنی پوهنځی د اړیکو د پراختیا په منظور د کرنی اړوند ټولو ادارو سره د علمی او مالی مرستو د جلب په موخه لاندی کړنی ترسره کوی

- په هیواد د ننه د کرنی د ملی پوهنتون او د نورو پوهنتونو د کرنی پوهنځیو سره د ګډو پروګرامونو د ایجاد په موخه د تفاهم لیکونو امضا کول او اړیکو جوړول
- په هیواد کی دکرنی اړوند نورو ادارو او بزګرانو سره د ګډو علمی پروګرامونو ایجادول

f. جندر

داچی د هیواد د کرنی په سکتور کی د نارینه وو تر څنګ ښځی هم فعاله ونډه لری نو د کرنی پوهنځي دمحصلانو د جذب په برخه کی لاندی کړنی تر سره کول او د نارینه وو سر بیره د ښځو دونډی د زیاتوالی هڅه کوی.

- د ښځینه محصلینو جذب
- اداری او کادری تشکیلاتو کی د ښځینه وو د جذب لپاره د لازمو اسانتیاوو برابرول

## II. اکاډمیک پروګرام

داچې د لوړو زده کړو محترم وزارت د ستراتیژیک پلان له اولویتونو څخه یو یې د اکاډمیکو ، مطالعاتي او تحقیقاتي امورو تقویت دی ، چې په یاده برخه کي وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د کابل پوهنتون سره د فیلیال په توګه فعالیت کوي، چې په اساس یې د کرنې پوهنځی هم کولای شي لدې پوهنتونو سره په علمي برخو کې ګډ کارونه ترسره کړي.

- د علمي کادر غړو او کارمندانو ظرفیت لوړولو ته انکشاف ورکول؛
- تحقیقاتي او مطالعاتي پلانونه پرمخ وړل؛
- د فوق لیسانس او دوکتورا برخوته لازمه پاملرنه کول؛
- د کریکولم برخه په ځانګړي توګه په نظرکې نیول؛
- د کیفیت لوړاوي اړوند مناسبې هڅې کول؛
- د بازار مطابق درسي مواردوته انکشاف ورکول؛
- الکترونیکي زده کړه ییز بهیر ته زمینه برابرول؛

### a.  د علمي څېړنې، نوښت او انتقادي تفکر عامېدنه

د لوړو زده کړو محترم وزارت له پالیسي سره سم ټول استادان باید په بېلا بېلو برخو کې د خپلو علمي ترفیعاتو په موخه تحقیقات ترسره کړي. دې پالیسي ته په کتو،علمي څېړنې، نوښتونه او انتقادي تفکر د اکاډمیک چاپېریال د ودې او پرمختګ لپاره درې اړین عوامل دي. د کرنې پوهنځی په پام کې لري، چې په خپلو علمي، تدریسي او اداري چارو کې دغو درېیو عواملو ته پوره پام وکړي او خپلې چارې د دغو اصولو پر بنسټ مخته یوسي.

- **علمي څېړنې**

دا چې د لوړو زده کړو محترم وزارت او وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه علمي څېړنو ته ډېر ارزښت ورکوي. په همدې اساس، د کرنې پوهنځی له خپلو ټولو استادانو تمه لري، چې په خپلو برخو کې څېړنې ترسره کولو او د علمي موندنو په موخه نه ستړي کېدونکې هلې ځلې وکړي. پدې برخه کې د کرنې پوهنځی له خپلو استادانو سره په پوره معنی همکار ده او د څېړنې لپاره لاندې کړنلارې ترتیب شوي دي.

**کړنلاره**

1) هر کال د کرنې پوهنځی په ټولو څانګو کې د اړوندو څانګو د اکاډمیکو غړو لخوا د څېړنو سرته رسول او په ملي او نړیوالو علمي ژورنالونو د علمي مقالو کې خپرول.
2) د استادانو لخوا HEDP او USWDP او د اړونده تحقیقاتو تمویلونکو ادراو څخه د تحقیقاتي پروژو ترلاسه کول.
3) د ځانګړو سمینارونو او ورکشاپونو له لارې ټولو استادانو ته، په ځانګړې ډول نویو استادانو ته د څېړنې اهمیت او  په علمي ډګر کې د هغې د عملي کولو لارې چارې ښوول.
4) د پوهنځي د لوړ رتبه استادانو له خوا محصلانو ته په ټوله تحصیلي پروسه کې د صنفي پروژو، سمینارونو، ګروپي کنفرانسونو، مونوګرافونو او نورې زده کړه ییزې پروسې د نویو څېړنیزو مېتودونو څخه په ګټه اخیستنې سره، لارښونه کول.
5) ټولنې ته د خدمت په موخه د پوهنځي اړونده برخو کې د ټولنې پر اساسي ستونزو څېړنې کول او هغوی ته د حل لارو موندل.

- د دې سربیره پوهنځی به په چارو کې نوښت راوستونکو استادان او محصلانو هڅول او د امکان تر حده په مالي او معنوي امتیازاتو نازول.

### b.  تضمین کیفیت او اعتبار لوړونه

د باکیفیته، معیاری او د وخت د غوښتنو مطابق د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو به رڼا کی کرنی پوهنځي په علمي برخو کی د بشپړ اعتبار د تر لاسه کولو په موخه لاندی کړنی تر سره کوی

- د مسلکی کاری کمیتو رامنځته کول
- د زده کړو د نوو میتودونو څخه د ګټې اخیستنی فرصتونو ایجادول
- د تضمین کیفیت اړوند معیارونو په اساس د اداری او علمی چارو تنظیم

- د روزنیزو پروګرامونو او علمی کنفرانسونو ایجادول
- د خدماتو د کیفیت لوړول
- د عملی کار اړوند اسانتیاوو برابرول

### c. الکترونیکي زده کړې (Electronic Learning)

دا چې د ستراتیژیک پلان یوه برخه الکترونیکي زده کړو ته پاملرنه ده، په همدې اساس وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه د ویب سایټ اصلي استفاده کوونکي د یادې تحصلي مؤسسې شرکا ( **Stakeholders** ) او په دوهمه درجه کې د افغانستان او نړې په سطحه ټول د لوړو زده کړو مینه وال دي. ددې ویب سایټ په جوړولو کې وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې شرکاوو ( **Stakeholders** ) غوښتنې په نظر کې نیول شوي، او د هغوی د غوښتنو څخه یو هم وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د زده کړیالانو لپاره الکترونیکي زده کړې او معلوماتي لینکونو لپاره د ویب سایټ موجودیت دی. په دې اساس د ویب سایټ د جوړولو په پلان کې د الکترونیکي زده کړو لپاره خاصه پاملرنه شوې ده، پدې ویب سایټ کې به د هرې څانګې استادان وکولای شي ترڅو د خپل مربوطه مضمون ویدیوګانې او نور معلوماتي لینکونه د خپلو محصلینو سره شریک کړي.

### d. ظرفیت لوړونه

د کرنې پوهنځی د ښه او پر وخت پرمختګ لپاره ژمن دی، چې د ظرفیت لوړولو په برخه کې پراخ او لازم اجرات ترسره کړي. د پوهنځي په هره برخه (استادانو، مامورینو او محصلینو) کې به د ظرفیت لوړولو پروګرامونه تطبیق کړي.

**د استادانو ظرفیت لوړونه:**

د کرنې پوهنځی د ښه او لا پرمختګ لپاره اړینه ده چې د ظرفیت لوړونې په برخه کې پراخ ګامونه او اړین کارونه ترسره شي. یاد هدف ته درسېدو په موخه د پوهنځي د ظرفیت لوړونې چارې په لاندې برخو وېشل شوې دي.

- **ماسټري پروګرام**

داچې د لوړو زده کړو وزارت په پام کې لري، ترڅو کادرته جذبېدونکي استادان باید د ماسټرۍ تحصیلي درجې ولري، خوشبختانه د کرنې پوهنځی ډیری استادان د ماسټرۍ لوړې زده کړې لري او او ځینې استادان د ماسټرۍ په زده کړو بوخت دی. یوازې دوه استادان لیسانس دی چې له دوی څخه یو تن د کابل پوهنتون د ماسټرۍ پروګرام ته کامیاب شوی. د کرنې پوهنځی ژمنه ده چې پاتې یو تن استاد په راتلونکی کې د هیواد د ننه او یا له هیواده بهر د ماسټرۍ زده کړو لپاره واستوي چې په دې سره به په نږدې وختو کې به انشاالله دکرنې دپوهنځي په چوکاټ کې شته ټول استادان د ماسټرۍ تر کچې د زده کړو لرونکي وي.

- **دوکتورا پروګرام**

د ظرفیت لوړاوي په برخه کې باید استادان د دوکتورا پروګرامونو ته واستول شي. دا چې استادان د ماسټري دورې په تکمیلېدو سره خپلې څانګې ته راستنېږي نو ددوو کلونو خدمت څخه وروسته کولی شی چې دوکتورا ته لاړ

شي او هم د لوړو زده کړو وزارت د نوي قانون له مخې پوهاند رتبې ته یوازې دوکتورا لرونکي استادان ترفیع کولی شي، په همدې اساس په راتلونکو پینځو کلونو کې د کرنې پوهنځي لږ تر لږه (۴۰٪) استادان د دوکتورا پروګرام ته واستول شي. دوکتورا ته د استادانو د معرفي لپاره لاندې ستراتیژي ټاکل شوې ده.

**کړنلاره**

1. دوکتورا ته یو استاد په هغه وخت کې معرفي کېدای شي چې د څانګې نور استادان په څانګه کې موجود وي او تدریسي بهیر له خنډ سره مخامخ نه شي.
2. د دوکتورا پروګرام ته له څانګې څخه په یو وخت کې یوازې یو استاد معرفي کېدای شي.
3. دوکتورا ته د معرفي لپاره هغه چا ته لومړیتوب ورکول کېږي چې له نورو استادانو یې د ماستري په لرلو کې د پوهنتون او پوهنځي لپاره زیات وخت کار کړی وي.
4. یو استاد کولای شي د لوړو زده کړه محترم وزارت لایحې ته په کتو له خپل نوبت څخه تېر شي او نورو استادانو ته د تګ موقع ورکړي.

- **لنډ مهاله روزنیز پروګرامونه**

د کرنې پوهنځي ټول استادان دې ته اړتیا لري چې د علمي، څېړنیزو او اداري مهارتونو کچه یې لوړه شي. د دې تر څنګ د نویو استخدام شویو استادانو د ظرفیت لوړونې لپاره باید په دوامداره توګه هڅه وشي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د اړتیا په صورت کې استادان په هېواد کې د ننه او له هغه څخه د باندې لنډ مهاله پروګرامونو ته معرفي شي، تر څو د هغوی د علمي ظرفیت کچه لوړه شي.

**کړنلاره**

1) د علمي څېړنو او لیکنې د زده کړې په موخه د روزنیزو پروګرامونو نیول.
2) د **OBE-SCL** ورکشاپونو دایرول.
3) د لیډرشیپ او منجمنټ زده کړې په موخه د روزنیزو پروګرامونو جوړول.
4) د **ICT** په برخه کې د روزنیزو پروګرامونو جوړول.
5) د کیفیت لوړولو په اړه د پوهاوي روزنیزو پروګرامونو جوړول.
6) انګلیسي ژبې کورسونو کې د ونډه اخیستلولپاره آماده کول.
7) په فیلوشیپ پروګرامونو کې د پوره ونډې اخیستنې لپاره شرایط اماده کول.
8) د نصاب د بیاکتنې مهارت زده کولو لپاره لنډ روزنیزو کورسونو نیول.

## د اداري کارکونکو ظرفیت لوړونه

په عمومي ډول د کرنې پوهنځی اداري کارکوونکي د ماسترۍ برنامو، اوږد مهاله او لنډمهاله پرګرامونو ته د هیواد په د ننه او بهر کې معرفي کوي، ترڅو د اداري کارکونکو مسلکي پوهه زیاته شي او په ورځنیو کارونو کې د ستونزو سره لاس او ګریوان نه شي.

**کړنلاره**

1) د اداري مراسلاتو او تحريراتو لپاره د روزنيزو پروگرامونو دايرول.
2) د اداري او دفتري مهارتونو په اړه د روزنيزو پروگرامونه دايرول.
3) د وخت د مديريت او تنظيم په اړه د روزنيزو پروگرامونو دايرول.
4) د پلان جوړونې روزنيزوپروگرامونو دايرول.
5) د راپور ليکلو لپاره د روزنيزو پروگرامونو دايرول.
6) د معلوماتي ټکنالوژي څخه د ګټې اخيستنې او برېښنايي حکومتولۍ د روزنيزو پروگرامونو دايرول.

e. د څانگو ايجاد

د لوړو زده کړو په برخه کې د هېواد او سيمې د اړتياوو په پام کې نيولو سره د کرنې پوهنځی لاندې څانگې په پام کې لري ايجاد کړي، تر څو د ټولنې لپاره مسلکي او ماهر محصلان په يادو څانگو کې وروزي او د ټولنې خدمت ته يې وړاندې کړي.

- **د حيواني علومو د څانگې ايجاد**
- **د نبات ساتنې د څانگې ايجاد**
- **د کرنيز اقتصاد او توسعې د څانگې ايجاد**
- **د بيوټکنالوژۍ د څانگې ايجاد**

**د څانگې د ايجاد کړنلارې:**

1) د هېواد د شرايطو او ضرورتونو او د نړۍ د پرمختيا سره سم د منلي کريکولم جوړول.
2) په يادو څانگو کې د کادري استادانو استخدامول او د عملي چارو د امکاناتو برابرول.
3) د يادو څانگو لپاره د کريکولم سره سم د تدريسي موادو چمتو کول.
4) د يادو څانگو لپاره د پروپوزل ترتيبول.
5) د لوړو زده کړو محترم وزارت د لايحې او غوښتنو په نظر کې نيولو سره سم اجراات کول.

## III. خدمات

د موثرو ، علمی ، عملی زده کړو او څیړنو د تر سره کولو په غرض د غوره او باکيفيته خدماتو برابرول اړين ګڼل کيږی نو په همدی اساس کرنی پوهنځی د غوره خدماتو د تهیه کولو په موخه لاندی کړنی ترسره کوی

1) لوړو زده کړو ته لاسرسی
   a) د نوو څانگو ايجاد
   b) د ټولنی د اړتيا سره سم د نوو علمی پروگرامونو رامنځته کول
   c) د محصلينو به جذب کی د جندر برابروالی په نظر کی نيول
2) د کريدت سيستم بشپړ تطبيق
   a) د کريديت سيستم د بشپړ تطبيق لپاره د کميتو په واسطه د اړتياوو تشخيص
   b) د ( OBE/SCL ) په اړه استادانو ته د ورکشاپ نيول

c) د ( OBE/SCL ) سیستم تطبیق

3) د علمی او عملی زده کړو اسانتیاوو برابرول

د تدریس د ښه کیفیت او د محصلینو د غوره پوهاوی لپاره کرنی پوهنځی لاندی کړنی تر سره کوی

a) علمی سفرونو برابرول

b) د علمی زده کړو لپاره د مجهز لابراتوار او فارم تهیه کول

c) د علمی تجربو دیزاین او تطبیق

d) د علمی سمینارونو برابرول

4) فرهنگی او ورزشی پروگرامونه

په هیواد کی د کرنی او نورو کلتوری ارزښتونو او د سالم صحت او تفریحی موخو به غرض د کرنی پوهنځي لاندی کړنی سرته رسوی

a) د کرنی اړوند علمی موضوعاتو به هکله د پوهنتون په فرهنگی مجله کی نشرات ترسره کول

b) د پوهنځی په کچه د ورشی تیمونو برابرول

5) محصلینو ته په بیلا بیلو برخو کې لکه ( ورزش، حفظ الصحه، د بیلا بیلو ډلو او مذاهبو او کلتورې څانګړنو ته درناوی، چاپیریال ساتنې فرهنګ دودول، د کارونو پیداکول او منابع څخه د استفادې په هکله همدارنګه د کورني او اجتماعي نظم ساتلو کې ) مشورو اریه کول.

## IV. لوړو زده کړو ته لاس رسی

لوړو زده کړو ته د ټولنې د وګړو لاس رسی او د هېواد ځوانې بشري سرمایې ته رشد او بهبود ورکول ، د کریډیت سیستم عملي کول او د محصلینو د توانایي خدماتو پرمخ وړل یو له مهمو اولویتونو څخه شمېرل کېږي .

ټول هغه زیربنایي تجهیزاتي او د کار لاندې برخې تضمینوي چې، د لوړو زده کړو محترم وزارت یې په هکله کوښښونه کوي ، لکه :

- د تدریسي ودانۍ جوړول
- جمنازیوم
- ادریتوریوم
- لیلیه
- کتابتون
- لابراتوار
- د تحقیقاتي او مطالعاتي مرکز رامنځته کول
- د معلوماتي تکنالوژی د مرکز جوړول او نور.

## V. زیربنا او تجهیزات

د کرنی پوهنځی د غوره تحصیلی خدماتو د تهیه کولو په منظور لاندی زیربنا او تجهیزاتو ته اړتیا لری او هڅه کوی چی په راتلونکو پنځو کلونو کی لاندی فعالیتونه تر سره کړی

### a. لابراتوارونه

لابراتوارونه د علمی او تحصیلي بنسټ د پاره ډیر مهم او اساسی اړتیا ګڼل کیږي، تر څو د نوموړو لابراتوارونو څخه محصلین او استادان په ګډه د خپلو څیړنو او عملي کارونو د سرته رسولو د پاره ګټه واخلي .نو په همدي اساس کرنی پوهنځی په پام کي لري چي په راتلونکو پنځو کلونو کي د لابراتوارونو اړوند پروپوزلونه ترتیب او لاندي ځانګو لابراتوارونه تاسیس کړي.

- د نباتاتو د ساتني
- باغداری
- د خاوري او اګرانومي
- حیوانی علومو

### b. څیړنیز فارم جوړول

د کرني د پوهنځي د پاره څیړنیز فارم موجودیت په کرنه کي د څیړنو او عملي کارونو د ترسره کولو د پاره تر ټولو اساسي او مهمه اړتیا ګڼل کیږي تر څو د نموړي فارم تاسیس سره استادان او محصلین وکولای شي په چي علمی څیړني په ډیره اساني سره ترسره کړي .نو د کرني پوهنځی به په راتلونکو پنځو کلونو کي هڅه وکړي چي د ټولو ممکنه لارو څخه په استفادې په مشخص شوې ځاي کي د کرنې د پوهنځي د فارم د تاسیس د پاره لاندی فعالیتونه ترسره کړي

- د څیړنیز فارم لپاره د پروپروزل تهیه کول
- د کرني د پوهنځي دڅیړنیز فارم د پاره د تخصیص شوي ځمکي هموارول او د احاطی د دیوال جوړول
- د اړتیا وړ اوبو د ترلاسه کولو د پاره د ابیاری سیستم رامنځته کول
- په فارم کي د فارم د وسایلو او د فارم د مدیر د دفتر د پاره د یوه تعمیر جوړول

### c. مجهزه کتابخانه او کمپیوټر لب

په علمی ساحه کي د مطالعي د پراختیا او نویو معلوماتو د ترلاسه کولو د پاره د مجهزي کتابخاني او کمپیوټر لب موجودیت هم ډیره اساسي اړتیا ده، کرني پوهنځي کي د یوي پراخي او مجهزي کتابخاني او کمپیوټر لب نه موجودیت د مطالعی پر وړاندي ډیره اساسي ستونزه ګڼل کیږي، چي په همدي اساس نوموړي پوهنځي هڅه کوي چي په راتلونکوپنځو کلونو کي د کتابخاني او کمپیوټر لب د جوړولو د پاره لاندي کړنې ترسره کړي

- د کرنی پوهنځي اړوند مجهزی کتابخانی ایجاد
- د کرنې پوهنځي په چوکاټ کې د مجهز کمپیوټر لب ایجادول

### VI. په چاپېریال باندې د کرنې پوهنځي اغېزې

د کرنې پوهنځي له ایجاد څخه تر اوسه پورې په ټولنیزه او محیطي برخه کې ځانګړې مثبتې اغیزې لرلي دي، چې په لاندې توګه ترې یادونه کولی شو:

ټولنې ته په علمي او اخلاقي زیور سمبال د مسلکي اشخاصو وړاندې کول په ټولنه کې د کرنې سکتور اړوند ستونزې د علمي میتودونو پرمټ حل او د لاپرمختګ لپاره زمینه برابره شي. د کرنی پوهنځي د علمی خدماتو، څیړنو او مسلکی اشخاصو په وړاندې کولو سره د باکیفیته او با کمیته غذایی موادو په تولید او چاپیریال ساتنه کی رغنده رول لوبولای شي.د سیمي د کرنیز سکتور د پرمختګ لپاره د کرنې په برخه کې وړ کادرونه روزل شوي، چې د کرنیز سکتور په بیلابیلو برخو کې په دندو ګمارل شوي دي او د هیواد په پرمختګ او ښیرازۍ کې یې مثبت او رغنده رول لوبولی.

یاد پوهنځي د هېواد په سطحه په مختلفو برخو کې کادرونه وړاندې کړي، چې یو شمېر یې د افغانستان د دولتی او خصوصی سکتورونو کې د لازمو خدماتو په وړاندې کولو بوخت دي.نوموړي پوهنځي په مختلفو څانګو کې د فارغانو په ورکولو سره په هېوادنۍ او په ځانګړې توګه د وردګ ولایت اړوند پوهنیزه برخه کې د توجه وړ د علمي ویښتابه لامل ګرځېدلي دی.

## د کرنې پوهنځی ستراتیژیو ټاکل

له ستراتیژي څخه مقصد هدف ته د رسېدلو هغه لارې چارې،کړنې، او تګلارې دي چې د محیطي عواملو د تحلیل او د ستراتیژیک حالت له معلومولوروسته ټاکل کېږي. د کرنې پوهنځی د وردګو د لوړو زده کړو موسسې ستراتیژیک پلان ستراتیژیو او خپل ستراتیژیک حالت ته په کتو په لاندې (٦) برخو کې (١٦) بېلابېلې ستراتیژۍ ګانې لري:

### I. د زیر بنا برخه

1. د پوهنځي لپاره د مختلفو اړینو ودانیو جوړول (لمړۍ ستراتیژي)

### II. مالي او اداري برخه

1. د همکاریو د تفاهم نامو ایجادول (۲مه ستراتیژي)
2. د ډونرانو د کومکونو جلبول او د حق الزحمه استادانو د حق الزحمې لوړول (3 مه ستراتیژي)

### III. لوړو زده کړو ته لاس رسی

1. د معارونو او امکاناتو په شتون کې د مناسب شمیر محصلانو جذبول(4 مه ستراتیژي)

2. د ښځینه محصلانو جذب (5 مه ستراتیژي)

### IV. ښه حکومتولي

1. د پوهنځي سیستم ډیجیټلي کول ( 6 مه ستراتیژي)
2. د بورو کراسي له منځه وړل (7 مه ستراتیژي)
3. کمېټوي جوړښتونو ته پراختیا ورکول (8 مه ستراتیژي)
4. د حساب ورکونې روحیه رامنځته کول (9 مه ستراتیژي)

### V. علمي او تحقیقي برخه

1. د پوهنځي په کچه د نویو څانګو ایجادول(10 مه ستراتیژي)
2. علمي څېړنو ته وده ورکول (11 مه ستراتیژي)
3. دکریکولم د تطبیق ارزونه او پرمختګ (12 مه ستراتیژي)
4. د تدریسي او درسي موادو معیاري کول (13 مه ستراتیژي)
5. د علمي او اداري غړو د ظرفیت لوړول (14 مه ستراتیژي)
6. د پوهنځي کیفیت لوړول او اعتبار ترلاسه کول (15 مه ستراتیژي)
7. د خدماتو او محصولاتو برخې ته انکشاف ورکول (خاصتاً د کرنیزو انستیتیوتونو څخه د فارغ شویو محصلانود تحصیل کچه لیسانس ته لوړول، د ټولو محصلینو لپاره د کمپیوټر زده کړې یو ځانګړی پروګرام برابرول) (16 مه ستراتیژي)

### VI. د بشري سرچینو پراختیا

1. کادري، اداري، د کرنې فني کارګر او خدماتي تشکیل لوړول (17 مه ستراتیژي)

د پورته (۱۷) ستراتیژي ګانو اولویت بندي په لاندې جدول کې د QSPM په اساس ترسره شوې دي.

## د کرنې پوهنځي زیربنایي اړتیاوې

اوسنی وضعیت: وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه اوسمهال یو دوه پوړیزه تدریسي تعمیر چې د ښونې او روزنې د پوهنځی لپاره تخصیص شوی، او یوه یو پوړیزه اداري ودانۍ لري. د کرنې پوهنځی لپاره تخصیص شوی یوه درې پوړیزه ودانۍ او د تحقیقاتي مرکز یوه دوه پوړیزه ودانۍ چې د جوړونې کارونه یې په چټکۍ سره روان دي، هیله ده چې د زرترزره ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.اوس مهال د دغو ودانیو له جملې څخه د کرنې پوهنځی د ښوونې او روزنې پوهنځی لپاره د جوړ شوې ودانۍ څخه د اداري او تدریسي موخو د ترسراوي په موخه استفاده کوي. دا ودانۍ د ښوونې او روزنې پوهنځي په نوم رسماً تخصیص شوي. وردګ د لوړو زده کړو موسسې د اړتیاوو سره سم کېدای شي یادې ودانۍ د نورو پوهنځیو لپاره هم په واک کې ورکړل شي.

- د کرنې پوهنځي لپاره تر کار لاندې د اداري او تدریسي ودانۍ زر ترزره ګټه اخیستنې ته اماده کول.

- د کرنې پوهنځی د عملي کارونو او څېړنیزو فعالیتونو لپاره د مجهز تحقیقاتي فارم جوړول.
- د لابراتوار د ودانۍ جوړول.
- د کتابتون او کمپیوټر لب لپاره د ودانۍ جوړول
- د تفریحي پارک جوړول.

## د کرنې پوهنځی تشکیلاتي پراختیایې جدول

| شمیره | برخه | علمی | کال | | | | | مجموعه | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ۱۴۰۰ | ۱۴۰۱ | ۱۴۰۲ | ۱۴۰۳ | ۱۴۰۴ | | |
| 1 | علمی بستونه | د کرنې پوهنځی په بیلابیلو څانګو کې د علمي کادرونو جذب | 8 | 4 | 8 | 4 | 4 | 28 | |
| 2 | اداري بستونه | د فارم عمومي مدیر 4 – ام بست | 1 | | | | | 1 | |
| 3 | | د کتابتون مدیر 5 – ام بست | | | | 1 | | 1 | |
| 4 | | د پوهنځی اجرایه مدیر 5 – ام بست | | 1 | | | | 1 | |
| 5 | | د تدریسي مدیریت مامور 5 – ام بست | | | | | 1 | 1 | |
| 6 | | د کمپیوټر لب مدیریت 5 – ام بست | | | | 1 | | 1 | |
| 7 | | 4 کسه لابرانت 5 – ام بستونه | | | 2 | 2 | | 4 | |
| 9 | خدماتي بستونه | د کرنې پوهنځی هرې څانګې ته 2 تنه فني ګارکر 7 – ام بستونه | 3 | 3 | 2 | 2 | 2 | 12 | |
| 10 | | 3 تنه خدماتي کارکونکي 8 – ام بستونه | | | 2 | | 1 | 3 | |

# عملیاتي پلان

| شمېره | فعالیت | موخه | مسئول | بودیجه | | د اجرا وخت | | | | | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | سرچینه | اندازه په افغانی | 1400 | 1401 | 1402 | 1403 | 1404 | |
| 1 | د کرنې پوهنځی لپاره د څرنیز فارم جوړول | د زېربنا برخې پراختیا | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودیجه | 2 میلیونه | | | | | | |
| 2 | د 4 بابه مجهزو لابراتوارونو جوړول | | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودیجه | 8 میلیونه | | | | | | |
| 3 | د کتابتون او کمپیوټر لب لپاره د ودانۍ جوړول | | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودیجه | 7 میلیونه | | | | | | |
| 4 | تفریحي پارک جوړول | | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودیجه | 1.2 میلیونه | | | | | | |
| 5 | د هیواد په کچه د هغو پوهنتونو له پوهنځیو سره د تفاهم نامو ایجادول چې مونږ سره د شته په برخوکې مرسته کولای شي | د تفاهم نامو ایجادول | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 6 | د ولایت په کچه د ځینو موسساتو او وکیلانو له لوري د مرسته کیدونکو پروژو څخه ګټه اخیستل | مالي برخې پراختیا | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 7 | د علمي څېړنو او لیکنو د زده کړې په موخه روزنیز پروګرامونه دایرول | علمي څېړنو ته وده ورکول | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 8 | د کریکولم له تطبیق څخه څارنه کول او د هغې ارزونه | د کریکولم تطبیق | د پوهنځی ریاست ، د څانګو امرین او استادان | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 9 | د عصري تدریسي ټکنالوژیو او میتودونو څخه ګټه اخیستل | د تدریس او درسي موادو معیاري | د پوهنځی ریاست،د څانګو امرین او استادان | عادي بودیجه | | | | | | | |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 10 | د OBE-SCL میتودونه په پوره ډول عملي کول | | د پوهنځی ریاست،د څانګو امرین او استادان | عادي بودیجه | | | | | | |
| 11 | د لوړو زده کړو په موخه خارجي او داخلي بورسونو ته د استادانو او اداري کارمندانو معرفي کول | د علمي او اداري غړو ظرفيت لوړول | د پوهنځی ریاست،د څانګو امریتونه | انکشافي بودیجه | | | | | | |
| 12 | د لیډرشیف، منجمنټ، ICT ، د تضمین کیفیت، د تصاب بیاکتنې او OBE-SCL ورکشاپونو دایرول | | د پوهنځی ریاست،د څانګو امریتونه | عادي بودیجه | | | | | | |
| 13 | د انګلیسي ژبې د زده کړې زمینه برابرول | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | |
| 14 | د فیلوشیپونو د ترلاسه کولو زمینه برابرول | | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودیجه | | | | | | |
| 15 | د ځاني ارزونې سرته رسول | د پوهنځي کيفيت لوړول او اعتبار ترلاسه کول | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | |
| 16 | د کمیتو تشکیلول | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | |
| 17 | اکشن پلانونو جوړول | | د پوهنځی ریاست،د څانګو امریتونه او استادان | عادي بودیجه | | | | | | |
| 18 | د محصلینو په واسطه د تحصلي برنامې ارزونه | | د پوهنځی ریاست،د څانګو امریتونه او محصلین | عادي بودیجه | | | | | | |
| 19 | د نصاب او څېړنې، د نظم او دیسپلین، بریښنایې زده کړو، تضمین کیفیت او د ستراتیژیک پلان د څار د کمیتو سربیره د نورو کمیتو تشکیل او پراختیا ورکول | دکمیتو پراختیا | د پوهنځی ریاست او د تضمین کیفیت امریت | عادي بودیجه | | | | | | |

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 20 | د لوړو زده کړو وزارت د مقرراتو پربنا د محصلینو او استادانو نسبت ته په کتو د محصلینو د جذب وړاندیز کول | لوړو زده کړو ته لاس رسی | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 21 | د ښځینه محصلینو جذبول | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 22 | د محصلینو د اوسیدلو لپاره د لیلیې جوړول | | د پوهنځی ریاست | انکشافي بودیجه | 110 میلیونه | | | | | | |
| 23 | د حساب ورکونې روحیه رامنځته کول او ذیصلاح اشخاصو ته په دوامداره توګه راپور ورکول | ښه حکومتولي | د پوهنځی ټول کادري او اداري پرسونل | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 24 | د حیواني علومو د څانګې ایجاد | د علمي او تحقیقي برخې پراختیا | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 25 | د بیوتکنالوژی د څانګې ایجاد | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 26 | د کرنیز اقتصاد د څانګې ایجاد | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 27 | د حفاظې د څانګې ایجاد | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 28 | د کرنیزو انستیتوتونو څخه د فارغ شویو محصلینو تحصلي کچه لیسانس ته لوړول | د خدماتو او محصولاتو برخې ته | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 29 | محصلینو ته د الکترونیکي زده کړو زمینه باربرول | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 30 | د پوهنځی په څانګو کې د کادري غړو کمبود ته په کتو د 28 نویو کادري بستونو ترلاسه کول | د بشري سرچینو پراختیا | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 31 | د پوهنځی په چوکاټ کې د 13 تنو اداري او خدماتي کارکونکو ګمارل | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |
| 32 | د کرنې پوهنځی د څرنیز فارم لپاره د 12 تنو فني اشخاصو ګمارل | | د پوهنځی ریاست | عادي بودیجه | | | | | | | |

# ضمايم

**لمړی ضمیمه:** د داخلي او خارجي وضعیت د تحلیل او ارزونې پوښتنپاڼه

## لمړی پوښتنپاڼه: د داخلي وضعیت تجزیه او تحلیل

**معرفي:** وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځی په پام کې لري چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره ستراتيژيک پلان ترتیب کړي، په همدې موخه توظیف شوي کاري ټیم هڅه کوي چې ستاسو د باارزښته نظریاتو په پام کې نیولو سره خپل وضعیت تحلیل کړي.

**له همکارۍ مو مننه!**

د لاندې جدول دریم کالم ضریب( چې د ټولو ضریبونو مجموعه له 100 زیاته نه شي)، ۴ کالم امتیازونو( چې هر قوت ته ۳ یا هم ۴ او هر ضعف ته ۱ یا هم ۲ امتیاز ورکول کیدی شي)، او ۵ کالم د ضرب حاصل( د ضریب او امتیاز) ته ځانګړی شوی دی.

د ډکوونکي ځانګړنې: نوم ( ) تخلص ( ) دنده ( )

| شمیره | داخلي عوامل( قوتونه او ضعفونه | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د مسلکي او نسبتاً مجربو استادانو شتون | 0.055 | 4 | 0.20 |
| ۲ | د سالم مدیریت شتون | 0.056 | 4 | 0.20 |
| ۳ | شپږ کلنه کاري تجربه | 0.045 | 3 | 0.14 |
| ۴ | د قوانینو او مقرراتو لپاره د مناسبې زمینې موجودیت | 0.044 | 3 | 0.15 |
| ۵ | د کیفیت لوړاوي د پروسې موجودیت | 0.038 | 3 | 0.13 |
| ٦ | د پوهنځي د کمی وضعیت په پرتله د کیفیت ښه والی | 0.048 | 4 | 0.18 |
| ۷ | د ټولنیز مسؤلیت احساس | 0.045 | 3 | 0.15 |
| ۸ | د علمي کادرونو د ظرفیت لوړوالي ته ژمنتیا | 0.051 | 3 | 0.17 |
| ۹ | په تدریسي او اداري کړنو کې شفافیت رامنځته کیدل | 0.045 | 3 | 0.14 |
| ۱۰ | په دوامداره توګه د استادانو، مدیرانو او محصلانو څارنه کول | 0.041 | 3 | 0.13 |
| ۱۱ | په پوهنځی کې د نویو څانګو د ایجاد په برخه د نسبي توجه شتون | 0.040 | 3 | 0.12 |
| ۱۲ | د پوهنځی د راتلونکو زیربنایي تاسیساتو لپاره د کافي ځمکې موجودیت | 0.060 | 3 | 0.20 |
| ۱۳ | په پوهنځی کې د څانګو کمبود. | 0.038 | 2 | 0.07 |
| ۱۴ | د کرنې پوهنځی لپاره د تحقیقاتي فارم، لابراتوارونو او اړوند تاسیساتو نشتون. | 0.041 | 1 | 0.05 |
| ۱۵ | د ښځینه محصلینو د جذب لپاره د امکاناتو نشتون. | 0.036 | 2 | 0.06 |
| ۱٦ | د علمي څېړنو او علمي تألیفاتو لپاره د مناسبو منابعو نه درلودل | 0.036 | 2 | 0.06 |
| ۱۷ | د پوهنځي په سطحه د کتابتون، انټرنیټ او الکترونیکي امکاناتو کمبود. | 0.038 | 2 | 0.06 |
| ۱۸ | په ټولګیو کې د درسي اسانتیاو (څوکی، پروجیکټور او...)کمښت. | 0.036 | 2 | 0.07 |
| ۱۹ | د اداري کارکونکو او قراردادي استادانو لپاره نامناسبه حق الزحمه | 0.033 | 1 | 0.05 |
| ۲۰ | د تدریس د کیفیت د ارزونې او اصلاح لپاره د اسانتیاوو کمښت. | 0.034 | 2 | 0.07 |
| ۲۱ | په تدریسي برخه کې د محصلینو لپاره د فیډبک په موخه د عملي برخې کمزورتیا | 0.036 | 2 | 0.07 |
| ۲۲ | د علمي سفرونو نه شتون | 0.031 | 1 | 0.04 |
| ۲۳ | د استادانو د تدریسي مکلفیت او علمي کړنو د اندازه کولو لپاره د میکانیزم نه تطبیق. | 0.032 | 2 | 0.05 |
| ۲۴ | د عایداتي منابعو نه شتون | 0.027 | 1 | 0.02 |
| | ستاسو په اند نور داخلي عوامل | | | |
| ۲۵ | | 0.007 | 0 | 0.00 |
| ۲٦ | | 0.003 | 0 | 0.00 |
| ۲۷ | | | | |
| | مجموعه | 0.995 | | 2.58 |

نیټه: د ډکوونکي نوم او امضاء

## دوهمه پوښتنپاڼه: د خارجي وضعیت تجزیه او تحلیل

**معرفي**: وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کرنې پوهنځی په پام کې لري چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره ستراتیژیک پلان ترتیب کړي، په همدې موخه توظیف شوي کاري ټیم هڅه کوي چې ستاسو د باارزښته نظریاتو په پام کې نیولو سره خپل وضعیت تحلیل کړي.

**له همکاری مو مننه!**

د لاندې جدول دریم کالم ضریب( چې د ټولو ضریبونو مجموعه له 100 زیاته نه شي)، ۴ کالم امتیازونو( چې هر فرصت ته ۳ یا هم ۴ او هر تهدید ته ۱ یا هم ۲ امتیاز ورکول کیدی شي)، او ۵ کالم د ضرب حاصل( د ضریب او امتیاز) ته ځانګړی شوی دی.

د ډکوونکي ځانګړنې: نوم (    ) تخلص (    ) دنده (    )

| شمیره | خارجي عوامل( فرصتونه او تهدیدونه) | ضریب | امتیاز | نمره |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پوهنځی په زیربنایي او اعتبارورکونې په برخه کې د پوهنتون او لوړو زده کړو محترم وزارت ملاتړ. | 0.082 | 4 | 0.31 |
| ۲ | د پوهنځي سره د اړونده شرکاوو همکاري. | 0.067 | 3 | 0.23 |
| ۳ | په کرنیزو سکتورونو کې د فارغ شویو محصلینو جذب | 0.060 | 3 | 0.19 |
| ۴ | له پوهنځي سره د سیمې د ځوانانو د لیوالتیا زیاتوالی. | 0.072 | 4 | 0.28 |
| ۵ | د پوهنځی سره د مرستې په برخه کې د نږدې پوهنتونونو د علمي کادرونو لیوالتیا. | 0.060 | 3 | 0.20 |
| ٦ | د ډاډمن امنیت شتون. | 0.058 | 3 | 0.18 |
| ۷ | په ټولنه کې ښه نوم، اعتبار او د خلکو دلچسپي درلودل | 0.068 | 4 | 0.24 |
| ۸ | لیسانس کچې ته د کرنیزو انستیتیوتونو څخه د فارغ شویو محصلینو لیوالتیا | 0.067 | 3 | 0.22 |
| ۹ | د کانکور له لارې د بااستعداده محصلینو نه معرفي کیدل. | 0.059 | 1 | 0.09 |
| ۱۰ | په اداري او مالي برخو کې د خپلواکې نشتوالی. | 0.051 | 2 | 0.08 |
| ۱۱ | د کانکور له لارې دپوهنځي تر ظرفیت لوړشمېر محصلانو معرفي کېدنه. | 0.058 | 1 | 0.08 |
| ۱۲ | د علمي کادرونو په جذب کې د ماسټری/ دوکتورا په کچه د علمي کادرونو کمښت | 0.049 | 2 | 0.09 |
| ۱۳ | د زده کړو لپاره د مناسب مطالعاتي چاپیریال نه شتون. | 0.058 | 2 | 0.10 |
| ۱۴ | د کادري او اداري پرسونل شغلي صلاحیت ته کمه پاملرنه. | 0.056 | 2 | 0.10 |
| ۱۵ | د استادانو په استخدام کې د ذیصلاح مسئولینو کمه پاملرنه. | 0.052 | 2 | 0.08 |
| | ستاسو په اند نور خارجي عوامل | | | |
| ۱٦ | | | | |
| ۱۷ | | | | |
| ۱۸ | | | | |
| ۱۹ | | | | |
| ۲۰ | | | | |
| | مجموعه | 0.918 | | 2.46 |

نیټه:                    د ډکوونکي نوم او امضاء

د کرنې پوهنځي د ( ۱۴۰۰-۱۴۰۴ ) کلونو لپاره د پنځه کلن ستراتېژيک پلان طرحه د ګمارل شوي ستراتېژيک پلان کميټې لخوا ترتيب او بشپړه شوه، د تائيد لپاره د پوهنځي علمي شورا په (۱۱/۱/۱۴۰۰ ) نېټه غونډه کې، چې د پروتوکول شمېره يې (۲) ده، د رايو په يووالي تائيد شوه.

په درنښت

د کرنې پوهنځي رئيس

پوهنيار ايمل ناصری

له هغه وروسته ياد ستراتيژيک پلان د (۳۰) (۲۳/۱/۱۳۹۹)ګڼه او نيټې په اساس د وردګ لوړو زده کړو موسسې رهبری شورا ته د منظوری لپاره ليږل شوی دی. ياد ستراتيژيک پلان د رايو په اکثريت سره د وردګ لوړو زده کړو موسسې په رهبری شورا کی د (۱) پروتوکول او (۲۳/۱/۱۳۹۹) نيټه کې تائيد او وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د رهبري شورا د (۱۵/۵) (۲۳/۱/۱۴۰۰)ګڼه ليک په واسطه راليږل شوي دي.

په درنښت

وردګ لوړو زده کړو موسسې رئيس

پوهنيار مسعود حسن زی